

# د کوچۍ مینه

ناول

د کتاب ځانګړني

د کتاب نوم :: د کوچۍ مینه (ناول)

لیکوال :: تمیم امرخیل

ډیزاین :: پښتنه جیلي

چاپ کال :: 16/4/2024

بیدون د نشر کولو څخه یې ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي

زمال ایمیل ادرس : Tamimamarkhil10@gmail.com

دا هم زما فیس بوک اي ډي Tamim Amarkhil

په لومړي سر کې د الله ج څخه ډېر شکر ګذار یم چې ماته یې یو ځل بیا د ناول لیکلو توان او قدرت راکړو

دا ناول زه خاص او خاص خپلو ټولو هغو ملګرو ته ډالې کوم چې هر کله ما د ناول لیکلو ته هڅوي او زما ملتیا یې کړې ده او زما هر ناول دوي خپله خوښوي

تاسو کولې شې دا او همداسې نور ناولونه زموږ د وټساپ له ګروپ او هم تلګرام چینل څخه تر لاسه کړي

وټساپ نمبر

+15852980839

تلګرام چینل د غزل ماښام

او همداسې له فیس بوک پیج پښتو ناول او ادبي لیکني څخه یې هم تر لاسه کولی شې

مینه او مننه تمیم امرخیل

# بسم الله الرحمن الرحیم

# پیل

دا زما عادت وه د سهار له لمانځه وروسته به مي قرآن پاک تلاوت کاوه نن هم همداسې وشول قرآن پاک له تلاوت څخه وروسته مي خپله رمه راخوشي کړه او له باز مامد ( محمد ) سره لاړم د غره لمني ته

په لاره کې مي له باز مامد سره ښې ډېري خبري وکړي رمه هم ښه په شوق د غره لمني ته روانه وه ځاي ځاي به ودريده او شنه بوټي به يې خوړل

اخر له نيم ساعت مزل وروسته د غره لمني ته ورسيدو رمه هم د پخوا پشان په خپل خوراک شوه ما او باز مامد په يوه کمره ( غټه تيږه ) باندي کيناستو نن مي باز مامد ته وويل زه به درته شپيلۍ وغږوم

هغه هم حيران پاتي شو ځکه دغه دوه کاله کيدل ما او باز مامد يو بل پيژندل خو هغه له ما داسې کوم حرکت نه وه ليدلي

باز مامد په حیرانونکي نظر وکتل او بیا یې وویل هلکه څه خبره ده نن دي داسې جوش نیولی ده خیرت خو ده؟

ما وویل هو خیرت ده بس هسې مي نن د شپیلې غږولو ته زړه شوي ده

هغه وویل سمه ده ما ویل هسي نه مئین شوي نه وي؟

ما ورته یوه ترخه مسکا وکړه بیا مي په غوسه ناک اواز وویل نه یاره داسي کومه خبره نشته

باز مامد وویل سمه ده نو غوسه ولي کوي؟

ما وویل بس ستا دي بي عقلي پوښتني ته مي غوسه راغله

باز مامد وویل سمه ده خو ما له ټوکو وویل

ما هم نور څه ونه ویل بس نوره مي د شپیلې په غږولو شروع وکړه هغه سندره ده وایې کاشکې یا ته نه وي پیدا یا زه نه وم مئین په تا دا مي پکي وویل

هیڅ نه پوهیدم نن زما هم زړه بیخي بل رقم وه خو نه پوهیدم څه وکړم اخر چې شپیلې خلاصه شوه باز مامد لاسونه وپړکول او بیا

يې واه واه کړل ويل يې څه يوه مسته او غمګينه شپيلۍ دي ووهله

ما وويل ټوکې مکوه هسي مي اوس تعريف مکوه

هغه وويل دروغ نه وايم ريښتيا هم ښه شپيلۍ دي وغږوله

ما هم مننه وکړه بازم مامد وويل هلکه راځه نو چې ځو اول به رمه روانه چينه کې اوبه کړو بيا به ځو

ما هم وويل سمه ده راځه نو چې ناوخته کيږي دا مهال د لس نيمي بجې وي مونږ هم خپله رمه د پغمان په شنه غره کې روانه کړه او د چينې په طرف لاړو

اخر د چينې غاړي ته لاړو ما او باز مامد خپل مخونه د چينې په يو سر کې پريمنځل او رمه په بل سر کې د اوبو څکلو ته ولاړه وه اوس مهال مونږ هم اوبه وڅکلې او رمه هم ښه په اوبو مړه شوي وه

باز مامد وويل هلکه ځه نو چې لاړ شو ناوخته ده ايله ورسيږو

ما هم وويل مخکې شه

کرار کرار مو د پغمان له غرونو څخه مخ ښکته حرکت راوکړو ايله څه کم دولس بجې خپلو خيمو ته راورسيدو

ما او باز مامد هم نور باید له یو بل څخه جدا شوي وو باز مامد وویل هلکه ادریسه راځه نن غرمه راسره میلمه شه

ما وویل نه مننه وروركه نه كيږې لاړم

زه چې هر كله خپل كور ته راغلم اول مي خپلې ابي ته وويل ابي څه دي تيار كړي دي غرمي ته موږ به مور ته ابي ويله

ابي وويل زوي جانه نن مي غوړ پاستي او شودي تياري كړي دي

ما وويل سمه ده ابي جاني ډوډۍ راوه چې ويې خورو ډېر ستړي يم

ابي مي مشري خور فاطمي ته وويل لور جاني ورشه ډوډۍ راوړه چې ادريس هم ستړي ستومانه ده او وږى به هم وي

خور مې ډوډۍ راوړه له ډوډۍ خوړلو وروسته ابي وويل كومه بله كډه هم راغله

ما هم ژر ژر ګوتي پاكې كړلي ورووتلم ګورم له لري څخه په اوښانو باندي شيان را بار ول او زموږ په طرف راروان ول

زما پلار ورمخكي شو ابي ته مې وويل كه شودي وي ګرمي يې

کړه چې راغلو میلمنو ته یې ورکړو

ابي مي وویل سمه ده شته پلار جان مې د نوي را کډه شوي کوچیانو خواته ورغلو او ابي مي او مشري خور مي دوي ته ډوډۍ تیاري ونیولو

چې کله رانږدي شول پلار مې راته وویل هلکه ادریسه نورو هلکانو ته غږ کړي او راشي له حاجي صاحب دوي سره خیمي ودروي

ما وویل سمه ده پلار جانه راغلو

باز مامد او نورو هلکانو ته مي غږ وکړو ټول په یوه منډه راغلل نور مو کرار کرار له اوښانو څخه شیان ښکته کول او د خیمو په جوړولو باندي مو شروع وکړه دا نوي خلک چې راغلي وه د سړی نوم یې خان محمد وه او زامن یې نه ول بس دري لور ګاني یې وي

د دوي د کور ښځي زمونږ کور ته لاړي او موږ هم ژر ژر خیمي ودرولي دوي ته مو هر څه منظم جوړ کړل او نور باید داسي وخت راغلی وه چې د حاجي خان محمد کورنۍ باید خپلې خیمې ته

تللي وه

پلار مي وويل هلکه ادريسه ورشه او د حاجي صاحب اولادونو ته ووايه چې نور يې کورونه جوړل شول

ما هم د سمه ده په ويلو سره حرکت وکړو لاړم خپلي خيمې ته ابي ته مي غږ وکړو چې نور نوي خلک بايد خپل کور ته لاړ شي

ابي وويل سمه ده ورته به ووايم خو ته دا چاي ځان سره واخله او لاړ شه اول بيرون خلکو ته چاي ورکړه

ما هم وويل سمه ده ابي جاني

چاي مي بيرون خلکو ته ورکړلو او زه لاړم خپلې رمي ته مي بايد اوبه ورکړي وي

بيرته چې راتلم نو ګورم د حاجي صاحب کورنۍ زموږ له کور څخه وتله اوفففف کاشکې يا په دي وخت زه نه وم راغلي يا خو دوي نه وه وتلي

د حاجي صاحب مشره لور چې زما يې هم لا نوم نه وه ياد دومره ښايسته وه چې بيخي مکوه پوښتنه

په لیدو سره یې بیخي خیالي نړۍ ته لاړم

ځان سره په فکرونو کې ډوب وم چې باز مامد وویل هلکه چیرته لاړې؟

ما یوه غټه جټکه وخوړه ورته مې وویل نه یم تللې بس همده ځاي کې یم

هغه وویل سمه ده مقصد چې بل چیره لاړ نشې

ما وویل نه نه یم تللې بس لږ مې فکر بدلولو

هغه وخندل بیا یې وویل بچیش دا هغه چا ته ووایه چې له تا پیدا شول موږ ته چل نشې راکولې

ما وویل هلکه څه ګډې وډې دې شروع کړې دې څه وایې

هغه وویل زه پخوا په تا باندې شکې وم چې مئین یې خو نن مې باور درباندې وشو

ما وویل هلکه زما او ستا خو یوه ده سره مئین شوې خو نه وم ولې اوس مې لږ دا زړه همداسې ښکارې

هغه وویل پوهیدم خو اوس ټوله کیسه وکړه او دا جیلې څوک ده؟

ما وویل هلکه تر اوسه یې لا ولاکه زما نوم هم یاد وي چې څه نومیږي بس همدا د خان مامد لور مي چې اوس ولیده زړه مي پرې مئین شو

هغه وخندل او په خندا کې یې وویل دا څه وایې او هلکه هغه به یې درنکړي

ما وویل یو فلان لرم که کامیاب شي

باز مامد وویل کوم؟

ما وویل بې له دي هم خان مامد دوي مور ته نږدي دي او دا چې کوم زوي نلري نو زه به هر کار کې کمک ورسره کوم بس ځان به بیخې ورته نږدي کړم او چې هر کله یې په ما باندي باور وکړو نور به یې لور هم په مرکه ورڅخه وغواړم که یې راکړه

هغه وویل زه نو څه ووایم هسي دي خپله ځواني خرابوي پریږده یې یوه به دي مور خوښه کړي وي هغه به درته وکړي

ما وویل هلکه دا څه ګډي وډي وایې زه وایم همدا جیلۍ کوم ته وایې مور به دي خوښه کړي وي

زه همدا جیلۍ کوم او چې په هر قیمت کې وي

باز مامد وویل هلکه زړه دي خپل ده زه به څه ووایم خو دومره وایم چې دا به دي ځواني خرابه کړي بیا زموږ کوچیانو قانون خو درته معلوم ده

ما وویل هو هر څه راته معلوم دي خو بس اوس ټول کار د زړه ده

باز مامد وویل سمه ده چې کار د زړه ده اوس نو راځه چې یو ځل د چینې سر ته لاړ شو

ما وویل سمه ده راځه نو

لاړو د چینې سر ته آن د ماښام اذانونه کیدل چې بیرته کور ته راښکته شولو کور کې اوس ټول په دي اړه خبري کوي چې د خان مامد دوي کور ته څه یوسي او زه بیا په دي خوشحاله یم چې دا هر څه که وي زه به یې وړم په همدي فکرونو کې وم چې یو وخت ابي راغې کړل هلکه ادریسه دلته راشه

ما هم منډه واخیسته ابي ته مي وویل وایه ابي جاني څه وکمه

ابي وویل لاړ شه خان مامد کاکا کره دا ډوډۍ یوسه

ما هم همدا وخت له خداي څخه په اسمان غوښت خو الله ج په ځمکه کې راکړو ابي ته مي وویل سمه ده ابي جاني

ډوډۍ مي ځان سره واخیسته او لاړم د خان مامد دوي کور ته هغوي خیمي ته چې نږدي کیدم سپي یې غپا شروع کړه

په همدي کې خان مامد کاکا هم راووتلو

ما ورته اول وویل خان مامد کاکا زه یم ادریس

هغه وویل ښه ادریس جانه پخیر سره راغلي راځه کنه ولي ولاړ یي

زه هم مخکي ورغلم ورته مي وویل خان مامد کاکا دغه ډوډۍ یي له کور درته رالیږلي ده

هغه وویل مننه بچیه دي ته هیڅ ضرورت نه وه

ما ورته وویل خیر حاجي صاحب تاسو خو زموږ نوي میلمانه یي

خان مامد کاکا بیا هم مننه وکړه

نور ما هم رخصت رواخیست راغلم د خپل کور په طرف خو په زړه کې مي د خان مامد کاکا د لور لیدل ارمان پاتي شو

خو خوشحاله په دي وم چې دوي له دي وروسته زمونږ ګاونډیان دي او کله کله خو به یي وینم

زړه ته به مي په دي تسلي ورکوله چې هغه جیني به که نور نه

وي د رمي په څرولو کې خو وینم

نن شپه هیڅ خوب نه راتلو را ووتلم بیرون ته د لرګي چوکې چې ما په خپلو لاسونو جوړه کړي وه په هغي باندي کیناستم او پورته اسمان ته مي کتل راته بجربه شوه چې د شپي په انتظار کې به د اسمان ستوري هم شماري ځکه ما هم دومره ستوري وشمیرل چې بیخي مي زړه له ډېره شمیرلو څخه تنګ شو

بیرته لاړم خپل د خوب ځایٔ ته یو څو شیبي په خپل ځایٔ کې تاو را تاو شومه نور خوب وړی وم

یو وخت مي خور په غوسه ناک اواز وویل ادریسه پاڅه پلار غوسه ده وایي هلک لمونځ ته لا نده ویښ شوي

زه هم په بیړه پاڅیدم لمونځ مي وکړو د قرآن تلاوت مي هم وکړو اول مي ځانته دعا وکړه او بیا هم ټولي کورنۍ ته وروسته مي هم ټول هیواد ته دعا وکړه زما به لا دعا نه وه خلاصه چې باز مامد را غږ کړل

هلکه راځه چې ځو اوس یي دعا ګانو کې هم غواړي دا خو یي لا وخت ده ګوره تاته وایم هلکه دا کار پریږده ولکه خیر ورڅخه وکړي اخر دي هم تباه کوي

ما وویل یاره ته هم دا ازارول دي پریږده د لمانځه ناوخته شوه ځکه خو یي اوس کومه

هغه وویل ښه سمه ده بابا راځه چې رمه خوشي کړو

ما وویل سمه ده مخکي کیږه

لاړو رمه مو د پرون ځائ ته لاړو نن ورځ مي هیڅ زړه نکیده چې رمه ډېره پاتي شي باز مامد ته مي وویل هلکه کډه باروه زه خو ځم

هغه وویل صبر کوه لا خو نهه بجې دي چیرته ځې؟

ما وویل بس ځم خپلي خیمي خواته نور دلته اوسیدل مي ښه ندي

هغه هم نه او نو ونکړه بس سیده مو دخپلو خیمو مخه ونیوله لاړو د خیمو خواته په لاره کې د خان مامد کاکا دواړه لورګاني هم مخي ته راغلي اوبو راوړلو ته تللي

ما موږ یي پوښتنه وکړه او هلکه دا چینه کوم خواته ده؟

ما ورته وویل دغسي مخکي لاړي شي او بیا چپ طرف ته ده

هغوي هم وویل سمه ده

لا یي یوه تشه مننه هم ونکړه خو زړه مي په دي خوشحاله شو

چې څه که نور نه وي جیني خو خبري درسره وکړي

سخت خوشحاله وم په زړه کې به مي ګوري ماتولي ویل به مي جیني خو هم خبري درسره وکړي شاید د هغي هم خوښ شوي وي ځکه زه خو یوازي نه وم ما سره خو باز مامد هم وه ولي یي هغه څخه پوښتنه نکوله

سخت خوشحاله وم ټوله لار به مي همدا فکر کاوه چې د جیني هم لکه چې خوښ یي

څه به مو سر در په درد کومه له یو میاشتي وروسته به مي ټول خیال او خاطر د هغي جیني په طرف وه هر څه کار به مي چې کولو هغه به مي سترګو ته راتله او د هغي یادونه به تل راسره وه دا وخت یي ما دا ښایسته نوم هم یاد کړی وه اسماء

نن چې د پنجشنبي ورځ وه هوډ مي ځان سره کړی وه چې اسماء ته به د میني اظهار کومه

ځان سره مي وویل نورو ځایونو کې خو ورته ویل او لیدل یي ناممکن دي مګر دا چې د ګودر په غاړه به ورته وایم

مازدیګر ناوخته پوري ورته انتظار وم خو اسماء او کوچني خور یي راونه وتلي د اوبو راوړلو ته

نور زما هم کوم اميد نه وه پاتي چې نن دي اسماء ته زه د خپل زړه اظهار وکړم

همدا وه چې تللم خپلي خيمي ته چې اسماء او خور يي راووتلي

د اسماء په لاس کې دوه منګې او د خور لاس کې وړوکي کوزه (افتاوه) وه ماته هغه ټپه رايادة شوه

ګودر ته ځم راپسي راشه

منګې مي دوه دي نري ملا مي ماتوينه

ما هم همداسي نوري ټپي په سر واخيستي او په منډه منډه مي د ګودر غاړي ته ځان ورسولو

تر ما يو دوه دقيقي وروسته اسماء او خور يي جميله راغللي

زه هم دا وخت د وني شاته پټ شومه چې کله له ما څخه دوي مخکي لاړي نو ما هم له شاه څخه په اسماء پسي غږ کړل چيشت هي چيش

هغي هم شاته وکتل ما ورته ځان وښودلو

هغي چې وليدلم نو خپلي خور ته يي وويل خور جاني ته لاړه شه خپله کوزه ډکه کړه زه هم بيرته درځم

خور يي د سمه ده په ويلو سره لاړه اسماء په ورخطا اواز سره وويل څه دي ها که مي خور وليدلم ضرور به ابا راباندي خبروي او ابا به مي مړه کړي

وايه اخر څه غواړي دلته له ما څخه ؟

ما څخه هم خبره ورکه شوه چې څه وکړم او په کومو الفاضو ورته ووايم چې مينه درسره لرم

بس ډايرک مي ورته وويل هي جيني زه مينه درسره لرم

هغي وويل څه؟ ته دي قد اوو قواري ته ګوره ستا خبرو ته ګوره صبر شه چې زه دي پلار او د ساحي خلک درباندي خبر کړم

ما وويل خير داسي مکوه اسماء زما خبره واوره

هغي نور هيڅ ونه ويل همداسي يي خپله مخه ونيوله او لاړه

له شا مي پسي غږ کړل اسماء د جواب په طمع يم

هغي هيڅ هم ونه ويل او د خپل کار مخه يي ونيوله

ما هم ځانته په دي تسلي ورکوله چې ګوندي بل وخت يي جواب راکړي ځکه دا ځل خو هغه سخته په غوسه وه او شايد بيريدلي هم وه

نور زما هر مازدیگر همدا کار وه راتلم به او د اسماء دیدن به مي د گودر غاړي سره کاوه او ما به ډېر وخت اسماء ته ځان هم ښودلو ځکه ما به ویل شاید دا ځل جواب راکړي خو نه هیڅ کله هم هغي د یوي خبري ځواب هم رانکړو

هره شپه به مي د خوب کولو په ځای د اسماء د خپلولو او د هغي د راضي کولو کوشش کاوه هره لاره به مي چې ورته جوړه کړه خو چې سهار به شو هغه لاره به هم ناکامه وه ریښتیا هم خیال وهل ډېر اسانه وي خو عملي کول یي بیخي سخت وي

هره ورځ به مي زړه په همدي شیانو خوړلو د حل لاره هم نه پیدا کېده ابي مي هم نشوه خبرولی ځکه ابي هم دومره غوسه ناکه ښځه وه چې مکوه پوښتنه خو اخر مجبور شومه فاطمه خور خبره کړم

ریښتیا هم زمونږ د کوچیانو انجوني دومره په اساني سره نه رضا کیږې او که یو طرف رضا شي د بل طرف بیا خوښه نه وي بس شل رقمه خبري وي

زه خو وایم چې الله ج دي څوک په کوچیانو کې نه پیدا کوي بیا یي که پیدا کوي هم مئین کوي خو دي هیڅ کله هم نه

د خور مي هم نوره وس نه رسیده هغي هم څو ځله اسماء ته ویلي

وه خو اسماء نه وه ورسره منلي

د وخت په تيريدو سره كور كې راباندي ابي او پلار هم خبر شول

ابي خو داسي ووهلم چې حتي په زنكدن مي هم دا وهل په ياد وه

موسم هم ورځ تر بلي سړيده يخه هوا هم د پغمان په غرونو راتله او تودي هوا نو كراره كراره خپل څادر ټولولو

هره ورځ به مي ابي مجبوره كوله چې ماته اسماء وغواړي بلار خره يوه ورځ ابي هم رضا شوه او پلار هم اخر زما ابي او پلار ورغلي ول د اسماء دوي كره

د اسماء غوښتلو كې يي پلار ورته ويلي وه چې ما لا نولس كاله وړاندي خپل ورور سره كړي وه كه الله ج زوي راكړو ورور به خپله لور زما زوي ته راكوي او كه لور يي راكړه خپله لور به د ورور زوي ته وركومه او

او هماغه وخت كې زما لور وشوه او د ورور مي زوي نو اسماء زما د ورور اينګور ده موږ نشو كولی تاسو ته اسماء دركړو

بس هيله كوم نور د اسماء د مركي پخاطر زموږ كور ته مه راځې ځكه اسماء نشو دركولی ګني تاسو هم ښه خلک يي خو داسي ده چې هغه پخوا د بل چا وه

یاره د پلار دا خبره نه وه سم د کلاشینکوف د مرمیو ګذار وه

ژوند راته بخي ګران شوي وه ځان سره مي ویل اسماء هم نه درکوي نو ژوندون څه مغنې لري راځه نو ته هم ځان له دي نړې رخصت کړه

ډېر منففي فکرونه رالویدل اخر یو بل فکر مغزو ته راغلو ویل مي شاید اسماء هم په همدي خاطر راسره رضا نه وي چې هسي نه پلار یي د تره زوي ته ورکړي او زما زړه مات نکړي

شپي مي ځان سره ډېر فکرونه وکړل سبا چې کله اسماء ګودر ته تلله زه هم ورپسي ورغلم دا ځل ښه وه اسما یوازي وه نو چې کله سم ځائ ته شولو یعنې چا نه لیدلو نو اسماء مي له لاس څخه ونیوله او ورته مي وویل هي جینې واوره

اخ څه نرم نرم پاسته لاسونه وه لکه موم

په ډارونکي نظر یي راوکتل ویل یي څه دي؟ خوشي کړه لاس مي څوک به راشي

ما وویل صبر شه یوه خبره درته کومه

هغي وویل څه دي هله وایه چې وخت نلرم؟

ما ورته وویل ګوره اسماء پوهیږم چې پلار
دي دغسي نه راکوي
ځکه ته يي د بل کس په نوم کړي يي يو فلان لرم
هغي وويل څه فلان او څه غواړي؟
ما ورته وويل راځه نوره لاوه خو نشته مګر دا چې دواړه به وتښتو

د اسماء سترګو کې اوښکي ډنډ شوي ويل يي وبښه نشم کولی دا کار تا سره وکړم ځکه پلار مي د لوي عزت خاوند ده او بل ماته هم خپل ضمير او وجدان اجازه نه راکوي چې تا سره لاړه شم

[ د پښتنو خو دي هم دا څو رواجونه ورک شي اول خو به لور او زوي چې کله پيدا کيږې يو د بل په نوم به يي کوي چې د پښتنو زامن او لورګاني مجبوره دي د دي بدو رواجونو له لاسه يا له کوره په پټه وتښتي او يا هم ځان وژنه وکړي ځکه ډېر وخت د هغه هلک جيلي يا د جيلي هلک نه وي خوښ دوي ځانو سره نور خلک خوښ کړي وی مګر هيف د ليکوال له اضافي خبرو څخه

خو زه وايم که د پښتو دا بد کلچر يا فرهنګ ورک شي نوي

فیصده ځوانان او پیغلي به په خوښی سره ژوندون تیروي او د هیچا به هم عزت او ابرو نه کمیږي]

کیسه راخلم: ځکه خو نسم کولی تا سره د خپل پلار کور پریږدم او لاړه شم ګني زما هم ته خوښ یي نام خدا ښه تکړه کارینده او با جرءته سړی یي خو بس اوس د پښتو رواجونو په زولنو کلکه تړلي یمه او نسم کولي تا سر خپل کور کلي پریږدمه

اخر ادریس له ډېرو ژړلو اوښکو تویولو سوال او زاریو وروسته اسماء دي ته مجبوره کړه چې باید هغه ته ووایي سمه ده

اسماء ورته وویل سمه ده ځم خو درسره خو نن شپه نه سبا شپه ځکه زه هم باید یو څه شیان ځانته برابر کړم

ادریس هم ورته ویل زما هم زړه ده چې سبا شپه لاړ شو ځکه یو څه شیان هم باید ځانته تیار کړو او یو آس هم باید ولرو نو نن شپه نه کیږې ناوخته ده سبا شپه به ځو

ادریس نور رخصت واخیست او لاړه اسماء هم اوبه برابري کړلي او منګي یي یو په سر کیښوده او بل یي تخرګ کې ونیولو نور یي د کور په طرف حرکت وکړو

اسماء پوهیده چې نن شپه یي اخرینه شپه ده

د پغمان په درو کې ځکه سبا سها د ملا په اذان سره اسماء او کورنۍ يي کډه کوي د جلال اباد په طرف او چې تر څو ادريس خبرېږي او راځې نو اسماء به له نيمي لاري هم تيره وي

سبا سهار وخته ادريس خپل پلار ته ووېل پلار جانه نن به رمه ته يوسي ځکه زه يو څه کار لرم

پلار ووېل سمه ده بچيه خو بيرته ژر راشه

ادريس ووېل سمه ده پلاره راځم ادريس اودس وکړو لا لمانځه ته وخت پاتي وه لاړو خپل کار پسي ځان سره يي ووېل لمونځ به لاره کې کوم جومات مخي ته راشي هغو ځائ به يي وکړم لا وخته ده روان شومه د شاهد په طرف ځکه هغه سره زما يو قيمتي آس وه غوښتل مي هغه راوړم ورځخه ټوله لار مي همدا فکر کاوه چې له اسماء سره به چيرته ځم زه خو داسي ځائ هم نلرم چې لاړ شم بيا به مي ځان سره ووېل چې الله مو له کوره باسي ځائ هم هغه راکوي ټوله لار راسره د اسماء فکر او د نن شپي د تښتي فکر وه

ايله به د سهار لس بجې د شاهد دوي کور ته ورسيدلم

ټوله لار مي پياده مزل وکړو ځکه خو دومره

ناوخته ورسیدم شاهد هم زما دي ناڅاپي راتګ ته حیران او ډېر خوشحاله شو

شاهد وپوښتل یاره ادریسه څنګه داسي بي احواله راغلي خیرت خو به یي؟

ما وویل هو یاره خیرت ده بس راغلو چې پوښتنه دي وکړم

هغه وویل مننه یاره الله دي د ښو پوښتنه وکړه

ما هم مننه وکړه شاهد د چایو لپاره کور ته لاړو ما ځان سره اوس همدا فکر کاوه چې ایا شاهد له اصلي کیسي خبر کړم او که نه؟

شاهد هم چاي راوړلو تر یو ساعت مجلس وروسته مي شاهد ته وویل یاره که هغه آس درسره راکړي بده به نه وي

هغه وویل کوم آس ما سره خو ستا آس نشته

ما په خندا کې ورته وویل ښه سمه ده شاید زه غلط ځائ ته راغلی و اوسم

هغه په خندا کې وویل نه غلط ځائ ته خو نه یي راغلی دا وایه چې په آس څه کوي؟

ما وویل بس یاره لږ مهم راته پکار شو ګني زما هم اوس ولکه

پکار وه خو مهم کار پیدا شو نو مجبور یم چې یوسم یي

هغه وویل سمه ده نو ولي ورخطا یي خو غرمه به پاتي شي بیا به لاړ شي

ما وویل نه مننه پلار هم یوازي ده ځم کور ته ځکه چې هغه دومره کارونه هم نشي کولی او نن ماښام باید کور ته ځان ورسومه

هغه هم نه او نو ونکړه بس کور ته یي غږ وکړو چې د ادریس آس راوباسي

همداسي وشول آس یي راته راوویستلو ښه یي موړ کړی وه ما هم له شاهد څخه د خداي په اماني واخیسته او ورته مي په شیفر کې وویل یاره حق ښښه شاید بیا ونه وینو مرګي ظالم ده بي وخته راځي

هغه وویل یاره الله ج دی نکړي دا څه وایي وبه وینو لخیر سره

په زړه کې مي ویل وروره یار دي په داسي بد کار پسي روان ده چې لا یي اوس وجدان او ضمیر ورسره په جنګ دي

ورته مي وویل هو لخیر سره که ژوند وه بیا به ګورو سره

نور مي نو پښه په آس واړوله نور روان شومه د خپل کور په طرف ډېر مي شاته په شاهد پسي وکتل ځکه پوهیدم چې زه به له

شاهد سره بیا نه ګورم تر ډېره شاهد ما پسي کتل او لاس یي ښوراوه او ما هغه پسي کتل او لاس مي ورته ښوراوه اخر هم زه د غونډي له سره ښکته شومه نور زه او شاهد یو له بل څخه پنا شولو په لاره ډېر خوشحاله روان ومه ځکه ما سره د اسماء د کورو پریښودلو وعده شوي وه سخت ورته خوشحاله وم په ټوله لار مي ځان سره ټپي کولي

لکه:

مخ دي په سپین کې سورخي وایي

لکه ګلاب چې په واوره شینډلی وینه

او خاونده ما د ګدر پول کړي

چې شا لیلا مي په سینه ګدي قدمونه

.......

له لوی تګ او مزل وروسته د ماسپښین یوه نیمه بجه خپل ځائ ته ورسیدمه د پغمان ښاسته او شنو درو ته په زړه کې سخت خوشحاله وم ما ویل که نور نه وي ډېر کم وخت پاتي ده چې د

اسماء سره به لاس په لاس روان یم

خو بیا خبره د قسمت ده خبره د تقدیر ده چې الله ج دي نصیب کې نه وي کړي د بنده وس کې هیڅ هم نشته

چې کله خپلي خیمي ته نږدي شومه ګورم د اسماء دوي خیمه نشته

اووووففففففف نو داسي شومه لکه چې څوک مي د توپک په مرمي په سر باندي وولي آس مي ودرولو ورڅخه ښکته شومه په منډه خپل کور ته لاړم فاطمه خور په خیمه کې وه ورڅخه مي پوښتنه وکړه خو ر اسماء دوي چیري دي؟ او خیمه یي چیره ده ؟

خور مي وویل لالا تاته خو معلومه ده چې کله یوه سیمه یخه شي زمونږ کوچیان له هغي سیمي څخه کډه کوي او بلي سیمي ته ځې او دا چې یخ راروان ده نو اسماء دوي کډه وکړه او لاړل د جلال اباد په طرف باندي

نه پوهیږم څنګه چیغه مي له خولي څخه ووتله ومي ویل نه داسي نه کیږي اسماء ما سره وعده کړي وه او هغه وعده خلافي نشي کولی

دومره مي په چیغو چیغو وژړل چې نور مي ستونی وچ شو

له خیمي څخه ووتلم لاړم د ګودر غاړي ته هغلته

مي لکه ليوني ځان سره ويل اسماء ته ولي لاړي تا ولي زه يوازي پريښودمه

چې څومره چيغي مي وکړي څومره مي وژړل هيڅ يي کار ورنکړو اوبو ځان سره زما خبري مخ ښکته وړلي او نور هيڅ هم نه وه

کله کله به مرغانو چونهار پورته شوه لکه چې هغوي هم زما په غم ژاړي

له ژونده مي بيخې زړه تور شو هماغه شيبه مي وويل هلکه ميني ته خو هسی هم ونه رسيدلي بس دا يو کار پاتي ده چې ځان سره يي وکړم هغه دا چې نور ځان له دي نړي رخصت کړه

د بی وفاوو ياري دي ورکه شه ځوانان يا مسافر د پردي ملک کړي يا يي هم د تور لحد ميلمه کړي(ليکوال امرخيل)

د بي غيرتو لافي دي ورکي شي انجوني يا د ګور کړي يا يي د ټول عمر بي عزتي کړي(پښتنه انجيلي)

خو بيرته مي ځان سره وويل نه دا څه بد کومه موږ هم ځو جلال

اباد ته شايد اسماء زما انتظار وکړي هغو ځاۍ کې شايد پلار يي شپي تصميم نيولى وي چې مور ځو جلال اباد ته او اسماء به وخت نه وي پيدا کړى چې ماته ووايي

هغه به زما انتظار کوي او که مي مور دوى ورشي او اسماء زما پوښتنه وکړي نو هغه به زما مرګ ونشي زغملى

ځانته به مي په خپلو بي معنې خبرو تسلي ورکوله چې ګوندي به اسماء هم زما انتظار کوي

بيرته په بيړه کور ته لاړم شپي مي پلار ته وويل پلار جانه موږ نځو جلال اباد ته دلته نور ورځ تر بلي يخ راروان ده او د پغمان په درو خو بيا واوره هم ډېره کيږې تاسو ته به معلوم وي

پلار مي وويل صبر کوه بچيه په خلکو مي يو څه پوروونه دي هغه را خلاص کړم نن هم تللي وم چې پيسي له خلکو واخلم که ژوند وه دا بله هفته به لاړ شو

ما هم وويل سمه ده پلار جانه

ابي وويل زويه نن ورځ نښکاريدي چيره وي ؟

ما وويل ابي هغه آس دى وليدلو هغه مي راوړلو د يو ملګري کره مي وه ما ويل چې نور ورځ تر بلي يخ راروان ده نو خپل آس مي

راوستلو چې لخير سره لاړ شو جلال اباد ته

ابي وويل سمه ده زويه ښه دي وکړل

خور ته مي وويل فاطمی ډوډی تياروه چې ناوخته ده ستړي هم يم ويده کيږم

هغي وويل سمه ده لالا

يو ځل بيا مي د انتظار شيبي شميرلي يو ځل بيا په انتظار کې پاتي شومه

اوففف نو انتظار کول هم ډېر سخت وي يوه دقيقه به لکه کال درباندي تيريږي

پوره يوه نيمه هفته مي په دي انتظار کې تيره کړه چې نن به جلال اباد ته ځو سبا به ځو

مګر خوشبختانه چې له يوي نيمي هفتي وروسته د يک شنبي په ورځ مو د پغمان له شنو درو ښخه خپل فرش او ګيلم راټول کړل او د پغمان له شنو درو ښخه مو د خداي په اماني واخسته

د خوشحالي حد يو ځل بيا تمام وه دومره خوشحاله وم چې هري خواته به مي کتل ماته به اسماء سترګو ته کيده چې ماته وايي جلال

اباد ته پخير راغلي

ابي او پلار به هم کله کله ويل زويه ډېر خوشحاله يي

ما به وويل وله جلال اباد پسي سخت خفه شوي يم نو ځکه يي ورتګ ته خوشحاله يم

هغوي به هم وويل سمه ده بچيه

دا د دوو ورځو تګ هم بيا زور غوښتلو چې موږ بايد جلال اباد ته ورسېږو

څه کم دري ورځې مو تګ وکړو له ډېر مزل وروسته اخر هم جلال اباد ته نږدي وو ځان سره مي هغه سندره ويل

و نن مي ديدن يار سره کيږې بنګړيوالي بنګړي زر راکوه ناوخته کيږې

سخت خوند يي کولو اخر هم هغه ځائ ته ورسيدلو چيرته چې زمونږ نورو کوچيان ملګري اوسيدل د سهار به لا لمنځونه نه وه شوي چې د کوچيانو اورونه بل ول

ما ته هغه ټپه ياده شوه

د کوچیانو له ژوندون څخه مي صدقه کړي

اورونه يي بل وي دوي به کډه باروينه

ريښتيا هم همداسي يو زموږ به د سهار اور مړ شوي نه وي موږ به بيا کډه باروله

نن بيا داسي وخت وه چي د نورو اورونه مړه شوي نه وه زموږ کډه راورسيده موږ ځکه دا شپه حرکت راوکړو چي لاره کي نا امني وه نو مجبور وو چي شپه هم بايد ټوله لار مزل وکړو

هغه ځائ ته هم پخير سره ورسيدم د کوم چي ما انتظار کولو اوس يوازي د سهار انتظار پاتي وه چي ټول کوچيان ويښ شي او زه د خان مامد کاکا پوښتنه وکړم تر څو د هغه خيمه کومه يوه ده

موږ هم خپله خيمه ودروله او خپل مالونه مو هم له اوبه کولو وروسته د خيمي تر شا ميخ کړل[ ميخ کول يعني د مالونو درول زموږ د ميدانشار خلک ورته وايي ليکوال]

نور خپله خيمه کي کيناستم ټول ويده شول خو ما د سهار فکر کولو او د اسماء د پيدا کولو

دا چي سترى وم په ما هم خوب زورور شوي وه ځکه ويده شوي

وم او يو وخت مي پام شو بيرون د خلكو غږونه دي نو راويښ شومه ما ويله هله نو هلكه همدا يي وخت ده خلكو سره به اشنايي هم وکړي او په پوښتنه پوښتنه د خان مامد كاكا كور هم پيدا کړي

بيرون له خيمي چې ووتلم نو ګورم ډله ډله خلك ولاړ وه ځينو سره مي سترګي مشي وکړه هغي خواته په ونه دنګ او لږ څه چاغ ځوان ولاړ وه چې له لري مي وليده ومي ويل راځه شايد همدا ځوان ته پته وي د خان مامد دوي د كور

چې كله ما د هغه په لوري قدمونه ور واخيستل نو هغه لږ څه ځان سره مسكى شو هغه هم زما خواته راغلو

له سلام كلام وروسته دي هلك راته وويل راځه كنه نوى راغلى يي چاي به وخورو

ما وويل نه مننه ما چاي خوړلی ده بس لږ به پيتاوي وکړو( پيتاوي يعنې د لمر خواته كيناستل ليكوال)

هغه وويل سمه ده ولي نه راځه

له دي خلكو څخه لږ لري لاړو له هلك سره مي ډېري خبري وکړي چې هر څه به مي زړه غټ كړو چې له دي هلك څخه د

خان مامد کاکا د کور پوښتنه وکړم خو هیڅ به نه کیده ځکه ما به چې د دي هلک سترګو ته کتل یو رقم به مي زړه کې ویره پیدا کیده ځان سره به مي ویل که دا رانه پوښتنه وکړي چې په خان مامد کاکا څه کوي؟ هغه خو زوړ سړی ده کوم زوي هم نلري چې زه یي پوښتنه وکړم

زر قسمه سوالونه به راسره پیدا کیدل چې په همدي کې هلک وویل ښه تا څخه یوه پوښتنه وکړم ؟

ما وویل هو ولي نه شل خو ورکړه ته خو لا یوه وایي

هغه وویل ستا په سترګو کې ماته داسي ښکاریږي چې تا کوم څه ورک کړي دي؟

په دي وخت کې ستونی وچ کلک شو لاره راڅخه ورکه شوه څه ورته ووایم

دروغ مي هم پر ژبه نه وه بس هلک ته مي وویل نه یاره څه مي ندي ورک کړي خو زموږ یوه ډله یوه ینمه هفته مخکي راغلل د هغوی لپاره مي لږ تشویش ده چې چیره به وي

هلک وویل ښه نو کولی شم د هغه کس نوم باندي پوه شم

ما وویل هو وروره خان مامد کاکا نومیږي

هلک له لاسه ونیولم او راته یي وویل راځه تا یو چیرته بوځم په هر څه به پوه شي

په نه زړه هلک سره روان شومه په ټوله لار کې به مي ویل شاید د اسماء کارونه وي او شاید دا کس مي له دي ځایه لري بوځي او هغلته مي مړ کړي

که څه هم هلک څو ځله وویل ډاریږه مه په ما باور وکړه په حقیقت دي پوه کومه

خو خیر اخر هلک سره لاړم د ګودر غاړي ته هلک

د وني یوه سنډي ته مي ډډه ووهله هلک له ځمکي څخه یو څو داني شګي ورپورته کړي بیرته ودیردلو

بیا یي وویل پوهیږم نوم دي ادریس ده او د اسماء دوي سره په پغمان کې ګاونډی وی

په اړه دي نور معلومات نلرم خو دا چې اسماء باندي زما باور وه او د هغي په ما باور ده او وه نو هغي ستا په اړه معلومات راکړل

اول خو تا سره پوښتنه پیدا کیږې چې ما او اسماء څنګه یو په بل

دومره باور پیدا کړو

زه هم همدلته ستاسو غونډي مئین ومه بیا ما نور ځوک نه درلودل چې خبر یي کړمه اخر مجبور شومه چې اسماء خبره کړم

خو خیر هغه مي هم په څه وزر او زاریو باندي رضا کړه د هغي رضایت له اخیستلو وروسته مي اسماء ته د خپلي میني ټوله کیسه وکړه

ځکه هغه جیلي د اسماء ملګري هم وه او هر کله به اسماء سره دلته د ګودر غاړي ته راتلله او اوبه به یي وړلي

کیسه نه غټومه خو لنډه دا چې د اسماء په واسیطه باندي ما او هغي جیلي کوژده وکړه

لا مو واده پاتي ده

د اسماء کیسه درته کومه

له نن څخه څه کم دوه هفتي مخکي چې کله اسماء له کابل څخه راغله نو زما ورور تللو پیشاور ته نو هغه تیاري هم نیولی وه بس د اسماء انتظار یي کولو چې هغه راشي او چې کله اسماء راغله دوه ورځي وروسته زما ورور او اسماء واده وکړو ځکه زما پلار او د اسماء پلار هغوي په ماشومتوب کې د یو بل په نوم کړي وه

او ریښتیا زه د اسماء د تره زوی یمه

نو دا چې هغوي پخوا د یو بل په نوم ول نو هغوي ډېر په اساني سره واده وکړو او زما لالا غوښتل چې لاړ شي پیشاور ته ځکه هغه غوښتل له پیشاور څخه دوبی ته تجارت شروع کړي

او هغه پخوا خپل مالونه خرڅ کړي وه د تجارت لپاره یي هم ځانته شیان برابر کړي وه

د لالا له واده وروسته اسماء راته ستا نوم او د میني کیسه وکړه

او بیا یي راته وویل چې ادریس ته ووایه که په لسو ورځو کې راپسي رانغلي مړه مي بوله

او د ثبوت لپاره درته د اسماء وډیو ښایم

هغه خپل ساده کامره داره موبایل کې راته د اسماء کړي ویډیو وښودله

اسماء پکې ویلي وه

لومړی خو زما سلام قبول کړه زما ګران ادریس جانه

بیا وبښه چې ته مي په هغه شپه خبر نکړي ځکه مور اوپلار مي دواړه ټوله شپه ویښ ول او هغوي خپل شیان ټولول ځکه په سبا

مور راتللو جلال اباد ته او ما ویل چې زه به ځم تا سره خو له جلال اباد څخه

مګر دا چې قسمت او فیصلو بله خبره کوله ملامته نه یم

هو اوس هم وخت لري راپسي راشه پیشاور ته او د چمکنی په نوم کلی ورته وایي ضمیر هغو ځایځ کې کور هم نیولی ده او ته کولی شی د ضمیر کوچی په نوم تجارتی مرکز کې ما پیدا کړي

ځکه ضمیر په خپل دفتر کې وي او که له هغه سره اشنا شي او ځان ورته معرفي کړي شاید هغه دي کور ته راولي او مور به یو بل په اساني سره پیدا کړو

ګوره پام کوه که ناوخته راغلی نو بیا ګیله ونکړی او بیا دیدن په اخرت کې غواړه

د ویډیو په لیدلو سره زما هم له سترګو اوښکي رواني شوي د اسماء د تره د زوی هم په مخ اوښکي رواني وي

هغه هلک راته وویل صبر شه یوه لاره به پیدا کړو خو ته باید ژر تر ژر باید پیشاور ته ځان ورسوي

ما وويل هو ياره خير ده يوه لاره خو راته وښايه بايد لاړ شم پيشاور ته

هغه وويل صبر شه لا ځلور ورځي وخت شته لږ فکر به وکړو هسي نه چې ته هم کوم مشکل سره مخ شي

ما وويل سمه ده ياره خو بايد تر هر څه د مخه يوه لاره پيدا کړو

هغه وويل سمه ده له ډېر فکر وروسته هغه وويل پيدا شوه

ما وويل څه پيدا شول؟

هغه وويل پوښتنه مکوه وخت ناوخته ده دا ووايه څو روپی لري؟

ما وويل شايد يو ځلويښت زره راسره وي خو دا پيسي څه کوي

هغه وويل يو څو به زه درکړم لاړ شه د پيسو په زور باندي پيشاور ته او هغلته به د بارډر څخه بيدون د پاسپورټه لاړ شي

ما وويل ياره کله به يي مرز کې ومني

هغه وويل غم مکوه وبه يي مني بس ته لاړ شه

ما وويل سمه ده ياره خو ته به هم کمک کوي

هغه وويل سمه ده شل زره افغاني او لس زره کلداري درسره

کمک کومه خو پام کوه چې چاته به حال نه وایو

ما هم د ملګرتیا لاس ورکړو او ورته مي وویل یاره بیخې خلاص یی

لاړو کور ته په لاره کې هغه راته وویل ګوره نن شپه به له خیمي څخه پټ ځې چې کور څوک درباندي خبر نشي

ما وویل سمه ده یاره

هغه بیا وویل مازدیګر ته همدلته راځو زما کوژدنه به پیسي راوړي او هغه به درکړم ځکه میرمن مې ګودر ته د اوبو لپاره راځي او پیسي هم راوړی هو ریښتیا میرمن مې هم په قیصه خبره ده

ما وویل سمه ده وروره ډېره مننه الله ج دي په یو ښایسته زوی ونازوه

هغه هم مننه وکړه

لاړم کور ته خپلي جامي مي برابري کړي او هغه پیسي مي هم واخیستي خپل د نیکر جیب کې مي لا سر له وخته پټي کړلي

مازديګر مهال هلک راپسي راغلو راته يي وويل ادريس جانه راځه چې د غونډي سر ته چکر ووهو

ما هم وويل سمه ده لاړو د غونډي سر ته خو نه تللو خو د ګودر غاړي ته لاړو او د هلک ميرمني هم پيسي راوړي وي دعا يي هم راته وکړه

هغه هلک هم پيسي راکړي او هم يي راته نمبر راکړو ويل يي که دي موبايل پيدا کړو بيا به زنګ هم راته ووهي

او هو دا پيسي مي داسي درته ښنلي دي لکه د خپلي مور شيدي دي

نوش جان دي شه

مننه مي ورڅخه وکړه بيا مى ورته وويل پيسي به دي بل وخت درته راوړم که ژوند وه

هغه وويل مننه هغه وخت به بيا ګورو نور يي وويل ته نور لاړ شه چې هسي نه موږ يا تاته کوم جنجال جوړ شي

ما هم وويل سمه ده نور لاړم خپل کور په طرف باندي شپي له ابي او پلار دوي سره تر ډېره کيناستم مجلس مو ښه په خندا سره پاي

ته ورسولو

پلار دوی به بیله خیمه کې بیده کېدل او زه بیله کې

بس لاړم خپلي خیمي ته چې ښه مظمئین شومه چې ټول ویده دي
بس د خپلو جامو پنډکي مي واخسیت او سیده مي د طورخم لاره
ونیوله

د سهار خړه لګیده چې یو موټر راښکاره شو

لاس مي ورکړو ودریده ورته مي وویل د طورخم تر ګیته ځم

هغه هم وویل وخیژه زه هم روان یمه

همدي موټر کې لاړم د طورخم تر ګیټه پوری ورسره لاړم یاره
داسي بیروبار وه ته به وایي ټول افغانستان راوتلی ده

زه هم لین کې ودریدمه دوه ورځي مي کوشش وکړو چې د
طورخم په ګیټ مي پریږدي خو نه یي پریښودمه

ځکه ما سره نه شناس نامه وه نه پاسپورت او نه هم ویزه

که ځومره مي کوشش وکړو ځومره مي ورته اوښکي تویي کړلي
ورته مي وویل خیر خبره د مرګ او ژوند ده

دومره مي ورته وژړل چې په سترګو کې مي نوري اوښکي پاتي نشولی خو د ظالم زامنو نه پریښودمه

اوفف له هري خوا څخه الله ج لاره راباندي بنده کړي وه

اخر مي هم د ګیټ ساتونکو ته پیسي جیب کې وروا چولي یوه د ظالم زوی خو بیخي نه پریښودلم ویل یي کمي دي

اخر مجبور شومه چې ټولي پنځوس زره افغاني ورته ورکړم

ځان مې څه په زحمت او کش و ګیر سره ننویستلو هغلته وړاندي هم ریشوت خواره ناست ول خو ما سره هم ډېري پیسي نه وي مګر بیا هم مجبوره شومه پنځه زره کلداری مي ورته ورکړي

هغوي د ظالم زامنو دا ځل بیخي ډېر ظلم وکړو سخت یي ووهلم خو بیا هم د یوه به زړه راباندي خوږ شوی وه که څه بلا

دا بل ته یي وویل پریږده یي هلک به مشکل لری

یو نا بلده هیواد ته داخل شومه دا وخت یوازي ما سره پنځه ساعته وخت پاتي وه

نا بلده ځائ کې له نا بلده خلکو سره چې د ډېرو لا پښتو هم سمه نه وه یاده

ورسره مخ شومه پوره دوه ساعته مي د چمکنی د اډي پوښتنه وکړه اخر هم اډه پيدا شوه

لاړم چمکنی ته هغلته بيا د ضمير کوچی د تجارتي مرکز پوښتنه کوه خو پيدا نشو

شپه مي يو هوټل کې راغله که څه هم ډېر نا کراره وم خو بيا مي هم غوښتل چې لاړ شم اسماء ته ځان ورسومه تر څو هغه خود کوشي ونکړي خو نه کيده

هوټل کې يوه را څخه پوښتنه وکړه زويه ولي داسي پريشانه يي؟

ځان سره مي وويل شايد کمک راسره وکړي

ورته مي وويل کاکا د ماما د زوی مي دلته تجارتي مرکز ده نوی جوړ شوي ده د ضمير کوچی په نوم باندی ده اوس دا ډېر وخت کيږې هغه لټومه نشم کولی پيدا يي کړمه

هغه وويل هغه افغان هلک چې جوړ کړی ده هغه ښايي؟

ما وويل هو کاکا جانه هماغه ښايمه همدا څو ورځي مخکي يي جوړ کړی ده

هغه وويل هيڅ خبره نشته زويه ما ليدلی ده سبا سهار به دی

ورولم

زما تلوسه شوه ورته مي وويل کاکا نه کيږي چې اوس لاړ شو؟

هغه وويل نه بچيه ځکه اوس يوه بجه د شپي ده هغه بسته وي سبا سهار مو لخير سر په وخت ورولم

ته اوس کرار بيده شه

ما وويل سمه ده کاکا جانه مننه

ټوله شپه مي په ويښه تيره کړه ځکه ما سره غم د اسماء وه اووووفففف نن شپه انتظار يوي خواته پخواني انتظار بلي خواته هيڅ نه سهار کيده

اخر هم سهار شو د لمونځ او اوداسه وروسته مي اول اسماء ته دعا وکړه ټوله شپه مي خوب هم نه وه کړي کاکا راته وويل

زويه لکه چې ټوله شپه دي خوب نده کړي ؟ سترګې دي تکي سري دي

ما وويل وله کاکا چې ريښتيا خبره شي ټکي خوب مي هم نده کړي ټوله شپه مي همدي ته انتظار کولو چې سهار شي او لاړ شو د هغي کمپني په طرف باندي

کاکا  هم نور زما په حالت پوه شو ګارسون ته يي وويل زويه راوړه چاي چې موږ لخير سره ځو

چاي مو وڅکلو خو دا چې زما تلوسه وه چې ژر لاړ شو نو داسي خوندور چاي مي ولکه څکلی وي

اخر هم له ډېر انتظار وروسته لاړو د ضمير د کمپني په طرف

کاکا وويل بچيه هغه کمپني دغه ده

ما ورڅخه مننه وکړه

کاکا وويل کومه خبره نشته زويه بس چې مشکل دی حل شي

ما وويل انشاءالله کاکا رخصت واخيست او زه هم لاړم د کمپني خواته

دروازه يي بنده وه ټک ټک مي کړه له هغي خوا د يو بوډا سړی غږ وشو څوک يي

ځان مي ورته معرفي کړو ادريس يمه د ضمير دوی کليوال يمه

هغه دروازه خلاصه کړه ښه ګرمه ستړي مشي يي وکړه او بيا يي وويل څه مو پکار وه

ما ورته وویل بابا جانه زما ضمیر پکار ده خسر یي رالیږلی یمه خان مامد کاکا

هغه وویل وبښه بچیه نن دفتر بند ده او ته خبر نه یي؟

ما وویل نه له څه خبر و اوسم؟

هغه په اوردو کې وویل صدر کی ایله کا انتقال هو ګیا هی

ورته مي وویل کاکا په اوردو نه پوهیږم که پښتو ووایي

هغه په ګوډه ماته پښتو کې راته وویل چې د رئیس میرمن مړه شوی ده

او بیا یي وویل ځکه خو نن دفتر بند ده

اووووففففف نو څه بد بد زیري مي اوریدل ورته مي وویل کولی شم د هغوی د کورس ادرس راکړي

بیا یي په ګوډه ماته پښتو کې وویل زه به دي ټیکسي کې کېنومه هغه به دي د هغوي کور سره ښکته کړي

خو کرایه به یي ته ورکړي له دي سره مسکي هم شو

ورته مي وویل د کرایي غم مکوه بس ما د هغوي کور ته ورسوه

هغه بابا هم په ټیکسي کې کېنولم او د ضمیر دوی د کور په طرف یي رخصت کړم

د ضمیر دوي کور ته چې ورسیدلم په ریښتیا هم اسماء وفات شوي وه هغي په ریښتیا هم دا نړي د تل دپاره پریښودلي وه

په سرو اوښکو د اسماء دوي کره ننوتلم د اسماء له خاوند سره مي هم روغبړ وشو سخت مي هغه ته هم مغز سوزیدل او د بارډر پولیسو ته خو سم په جوش کې راغلی ومه

خیر د اسماء جینازه مو وکړه له جنازي وروسته مي له شاهین سره شناخت پیدا کړو چې هغه به د غلا کار کولو

ورته مي وویل یوه توفانچه راله راکړه بس په دوه ورځو کې دي ځان په پیسو کې پټ کړه

هغه وویل څنګه باور درباندي وکړم

ورته مي وویل داسي کیسه شوي ده اوس غواړم د خداي ښنلي اسماء خاوند ووژنم او ټوله شتمني یي تاسو ته راوړم

هغه هم باور وکړو لاړم ضمیر ته مي ځان ښه سم نژدي کړو په دوهمه ورځ مي هغه هم له نړي څخه رخصت کړو ځکه اول خو

همدي زه او اسماء يو له بل څخه جدا كړي وو

بيا لاړم د هغه له كوره مى پيسي پټي كړلي اوس نو د شاهين هم راباندي باور وشو له هغه څخه مې غوښتنه وكړه چې يو ځان مرګي هم راكړي

دا چې هغه شناخت درلوده او غټه ډله يي هم وه نو يي راته يو ځان مرګې هم راكړو

له هغه هلک څخه مي ځان مرګي خلاص كړو خپل ځان پسي مي وتړلو او لاړم د طورخم ګيټ ته

همغو ريشوت خورو چې د هغو له لاسه زه اسماء ته ناوخته ورسيدلم او اسماء مي له لاسه وركړه په همغو رزيلانو باندي ځان مرګي وكړو

په ډېر ډار سره ورته نږدي شومه

هغه يوه كس ونيولم ويل يي چيره ځې؟

دا بل چې وپيژندلم ورته مي د پيسو بنډل وښودلو

هغه رزيل بيرته خپل افرس ته غږ كړل راپريږده يي كس خپل ده

په زړه کې مې ووېل اوس به دې خپل کس ته ولېږم د رزيل زویه وړاندي ورغلم دا چې راباندې پوه نشي په لاس مې سترې مشی ورسره وکړه ورته مې ووېل ښه خو يي

ښه روغبړ مې ورسره وکړو

د د چايو لپاره غږ کولو چې یوه افسر چیغه کړه هلې انتحارى ده مخکې له دې چې هغه رزيلان له ما څخه لرې لاړ شي ما هم سيوچ ته زور ورکړو

درززززززز

پای

نیو یارک امریکا

**16/04/2024**



د لیکوال لنډه پیژندنه: تمیم امرخیل د عبدالفتاح امرخیل زوی د امان الدین امرخیل لمسی د میدان وردګو ولایت اوسیدونکی په کال 28/02/1382 کې یې د میدان وردګو ولایت په نرخ ولسوالی د کړیمدادو په کلی کې یې نړۍ ته سترګې غړولي دي

خپلې لومړنۍ زده کړې یې خپل کلی کې د شهید صابر یار په عالی لیسه کې کړې دي او له دوهم ټولګي څخه پورته زده کړې یې د کابل ښار پنځمه نایحه د چهار راهي قمبر اړوند سمه د ابوذر غفاری (رض) په عالی لسه کې تر سره کړې دي او له نوموړي لیسي څخه په کال ۱۴۰۱ د قوس میاشتې په ۲۹م نیټه په عالي درجې سره فارغ شو

او بیا د کانکور په ازموینه کې په لوړو نومرو سره د غزنې پوهنتون انجنیري بخش ته کامیاب شو

او نا ګفته دې پاتې نشي نوموړي په پښتون یار او یا هم په تمیم پښتون یار باندې مشهور ده

لا یې د بریاوو په هیله

نوټ: دا چې زه نه د ادبیاتو محصل یم او نه مې هم ادبیات لوستلي دي نو ضرور به مې ناول د املاء په بخش کې او بیل خصوص د پښتو په (ی ) ګانو کې مشکل وی نو هیله کوم چې په دي بخش کې مرسته هم راسره وکړي او د ناول د لوستلو پر مهال ګذاره هم کوي او که کومه غلطي وی نو د سمولو لپاره یي ما سره اړیکه پر وټساپ نیولی شي

زما وټساپ نمبر پورته ذکر شوی ده

مینه او مننه ستاسو کشر ورور تمیم امرخیل

ډېره مننه له خپلي خوږي مور جاني او خوږ پلار جان څخه کومه چې ماته یي د ناول لیکلو اجازه راکړه او زه یي نور هم لیک او لیکلو ته تشویق کړم

بیا هم دا ناول اول خپلي مور جاني او پلار جان او بیا خپلو ټولو مینه والو ته ډالي کومه

یوه خاصه مننه له خپلي خور پښتنه جیلي څخه چې ما سره یي د کتاب په ډېزاین او اډیټ کې مرسته وکړه

د بل ناول انتظار هم کولی شي